# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر لسمه | ۶۰۸مه گڼه


2 017550 139621


## پوهنتون

۴ مخ

### البرز د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

مجهزکتابتون، کمپیوټر لب، مناسب لوبغالي، شنه ساحه او د عملي زده کړو لپاره ځانګړي تالارونه هغه امکانات دي، چې البرز موسسه يې لري.



# کابل امن نه دی؛

## د وسله والو غلاوو او جنایتونو اوج کابل ښاریان اندېښمن کړي دي



۳

### پر کابل کې حکومت غلو ته جواز ورکړی!؟

۲ مخ

### د واشنګټن ساتونکو په اوړو کې لا هم شګه ده!

۲ مخ

### د جګړې اوسنی ډګر(افغانستان)؛ خو د علم او پوهې لرغونې زانګو!

۳ مخ

### کرنې ریاست: روان کال به د لوګر د پیازو حاصلات نږدې ۳۷ زره ټنو ته ورسېږي



کرنې ریاست وايي، روان کال د لوګر بزګرانو پر یو زر او ۱۶۰ هکټاره ځمکه کې پیاز کرلي چې له دغو کروندو څخه به ۳۶ زره او ۵۴۰ متریک ټنه پیاز ترلاسه راشي.

د لوګر د کرنې رییس عبدالله تسل وايي: «د لوګر د پیازو سږني حاصلات ښه دي، سږ يې بازار هم ښه دی، بزګران خپل پیاز په مناسبه بیه خرڅوي. که څه هم د تېر کال په پرتله په دې ولایت کې د پیازو د کروندو کچه ټیټه ده، خو د پیازو د تولید په کچه کې د پام وړ بدلون نه تر سترګو کیږي.»

تسل زیاتوي چې تېر کال د لوګر ولایت په یو زر او ۲۰۰ هکټاره ځمکه پیاز کرل شوي وو، چې د حاصلاتو کچه يې ۳۷ زره او ۸۰۰ مېټریک ټنو ته رسېده، خو سږکال د دغه ولایت په یو زر او ۱۶۰ هکټاره ځمکه پیاز کرل شوي، چې تر لاسه شوي محصول به يې ۳۶ زره او ۵۴۰ ټنه وي.

### امریکايي رسنۍ: له افغانستان څخه د سرتېرو ایستلو په تړاو د ټرمپ ګډوډو دریځونو اندېښنې را پارولي

د افغانستان په اړه د ټرمپ ګډوډو دریځونو سختې اندېښنې را پارولې دي. دې هېل نشریه د امریکایي شنونکو او پخوانیو چارواکو له خولې لیکي چې په افغانستان کې د سرتېرو د حضور او یا له دغه هېواد څخه د سرتېرو د ایستلو په تړاو د ټرمپ څرګندونې حیرانوونکې دي. د دوی په خبره، یوازې ۲۴ ورځې د امریکا ولسمشریزو ټاکنو ته پاتې دي او ټرمپ د یوه پوځي جنرال په توګه په یوه ټوېټ د پنټاګون ټول پلانونه او فعالیتونه ګډوډوي. ډېری شنونکو بیا ویلي چې د ټرمپ ټوېټونه تر ټولو ستر دروغ دي او هغه يې د عملي کولو وړتیا نه لري.

د دوی په باور، له دې سره سره ټرمپ ته پکار ده چې د امریکا د مهمو مسایلو په اړه دغه ډول غیر مسوولانه څرګندونې ونه کړي، بلکې د پنټاګون پلانونو او خپلو پخوانیو څرګندونو ته دې هم یو ځل ګوري بیا دې نوی دریځ خپلوي. ټرمپ څو ورځې وړاندې په یوه ټوېټ پیغام کې ویل چې نږدې دوه میاشتې وروسته به خپل ټول سرتېري له افغانستان وباسي.

دا په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې له مخې به تر راتلونکي کال پورې ټول امریکایي پوځیان له افغانستان څخه وځي او په بدل کې به يې طالبان چا ته اجازه نه ورکوي چې افغان خاوره د نورو پر ضد وکارول شي.

### مجیدي: د وکیلانو د نیمګړي نصاب له کبله سل تقنیني فرمانونه له تصویبېدو پاتې دي



۲ مخ

### باشنده گان بلخ: طرف های درگیر هرچه زودتر اعلام آتش‌بس نمایند و به مذاکرات ادامه‌دهند



صدها علما، فعالان جامعه مدنی، زنان، خانواده های قربانیان جنگ و شهروندان ولایت بلخ در یک گردهمایی بزرگ به برقراری اتش‌بس تاکید کردند.

مولوی شیر احمد انصاری به نمایندگی از علما در مورد جنگ و صلح از دیدگاه اسلام گفت، که جنگ جاری در کشور خلاف تمام آموزه های دینی است و عامل همه بدبختی های جامعه می‌باشد.

احمد جواد صمیمی فعال جامعه مدنی در این نشست گفت، که طرف های درگیر باید جنگ جاری را متوقف سازد و برای برقراری اتش‌بس سرتاسری به توافق برسند. در ادمه امیر محمد ناطقی بزرگ قوم در سخنان خویش نیروهای امنیتی و دفاعی کشور را قهرمانان واقعی و فرزندان صادق وطن یاد نموده گفت آن‌ها به قلب مردم جاه دادرد و همواره مردم در کنارشان است و حمایت همه‌جانبه می‌نماید.


پلوشه اچکزی فعال حقوق زن در این نشست در رابطه به نقش زنان در پروسه صلح و این که دست آوردهای زنان طی بیست سال آخر در گفت‌گو های صلح میان افغانی در نظر گرفته شود تاکید نموده، اضافه کرد که ما زنان افغان از طالبان و دولت افعانستان خواهشمندیم که هرچه زودتر اعلام آتش‌بس نمایند و به مذاکرات ادامه‌دهند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـــځ

# په کابل کې حکومت غلو ته جواز ورکړئ!؟

په کابل ښار کې اوس هره ورځ د غلاوو، شوکو او وژنو پېښې وي. له ارگ او دولتي ودانیو پرته د کابل ښار په هره سیمه کې هره ورځ لسگونه پېښې کېږي، د موبایل، پیسو، موټر او نورو وسایلو غلا عادي شوې ده. خبره یوازې د غلا هم نه ده، بلکې له غلا سره زخمي کول او وژل هم روان دي.
هره ورځ په ټولنیزو رسنیو کې د همداسې زړه بوږنوونکو پېښو معلومات، تصویرونه او ویډیوگانې خپرېږي، خو حکومتي چارواکي داسې غلي دي، لکه چې هېڅ نه ویني او نه یې اوري؛ لکه دوی ته چې خدای هېڅ سترگې او غوږونه نه وي ورکړي.
د کابل ښار دا غلاوې او وژنې بې ساري دي، په تېرو شلو کلونو کې داسې نه وو شوي چې غله او داړه ماران دې دومره زورور وي او په رڼا ورځې دې خلک ولوټي، ټپي دې یې کړي او آن ودې یې وژني. د کابل ښار نږدې هر وگړی یا د هرې کورنۍ یو وگړی له دغو غلو سره مخ شوی او د وهلو ټکولو تر څنگ یې موبایل یا پیسې هم ترې وړې دي. اوس غله په تیاره کې نه، بلکې په رڼا ورځ، په عمومي سرک او آن د پولیسو د پوستې او حوزې څنگ ته غلا کوي. اوس غله داسې دي، لکه چې د غلا جواز ورکړل شوی وي او لکه حکومت چې غلو ته تسلیم شوی وي.
دا چې حکومت ولې د خلکو غږ نه اوري او ولې غلی دی، ښایي متفاوت دلایل ولري، خو څو مسایل پکې مهم دي. لومړی دا چې حکومت ته د خلکو وینه او مال ارزښت نه لري. دویم دا چې زموږ کورنیو چارو وزارت د بې کفایته، غلو او مفسدینو له خوا رهبري کېږي او دوی د خلکو د امنیت پر وړاندې د هېڅ ډول مسوولیت احساس نه کوي.
همدا اوس امنیه قوماندانې، د پولیسو د حوزو آمریتونه او آن تر دې په ټیټه کچه بستونه پلورل کېږي. په پیسو مقرر شوي مسوولین بیا د ورکړل شوو پیسو د پوره کولو او گټې لپاره هر څه ته لاس اچوي.
گڼ داسې شواهد شته چې د غلو او وژونکو سره په دې چاره کې امنیتي مسوولین هم شریک دي. همدا څو ورځې وړاندې یوه ویډیو خپره شوه چې خلک نیول شوي غله پولیسو ته تسلیموي، خو هغوی غله په لاره کې پرېږدي او حوزې ته یې نه وړي. د کابل د حوزو ډېری پولیس د دې پر ځای چې د خلکو امنیت ونیسي، په غلاوو بوخت دي. دوی له لوړو جوړېدونکو ودانیو، دوکانونو، کراچیو او نورو ځایونو څخه هره ورځ پیسې اخلي او ټوله ورځ د همدې پیسو په راټولو او خوندي کولو بوخت دي. دوی بیا دا پیسې په کورنیو چارو وزارت کې چارواکو ته ورکوي او آن ویل کېږي چې دا پیسې تر ارگه پورې هم رسېږي.
واقعیت دا دی چې دا حکومت وروست شوی، نه خلکو ته د خدمت نیت او اراده لري او نه هم د خلکو امنیت، ژوند، وینه او مال ورته ارزښت لري. د کابل ښار ټول اوسېدونکي چیغې وهي، له غلو شکایت کوي، خو حکومت مرگونی سکوت کړی دی. حالت داسې دی لکه غلو ته چې جواز ورکړل شوی وي او پولیس د غلو په همکارانو اوښتي وي. خلک له غلو او وژنو کړېږي، خو حکومتي چارواکي آن په دې اړه د خبرو تر بریده هم ځان نه په تکلیفوي. د دې مانا دا ده چې حکومت خلکو ته وایي چې موږ غلا ته جواز ورکړی، تاسې د شکایت حق نه لرئ او ستاسې مال او وینه موږ او غلو ته روا ده.

# د واشنگټن ساتونکو په اوړو کې لا هم شگه ده!



لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

دوحې ته د ډاکتر غني سفر دا هیلې را ژوندۍ کړې چې ښایي بین الافغاني مذاکرات له روان بندون او درېدو څخه بهر شي او افغان ولس ډېر ژر د جگړې د درېدو او د سولې د بریا نوې خبرې واوري.
مگر موږ ولیدل چې د افغان ولس د هیلو خلاف ډاکتر غني له قطره په تبلیغاتي جگړه لاس پورې کړ، د فرمایشي او سلیقوي لویې جرگې پریکړې یې یوځل بیا د خپلو سرو کرښو په توگه مطرحه کړلې او په خیالي (جمهوریت) شرایطو یې ټینگار وکړ.
کابل ته له راگرځېدو سره د ډاکتر غني خبرې د نوموړي د حکومت پر شعار بدل شوې، پرون یې د مذاکراتي پلاوي مشر او نن یې دویم مرستیال دانش طالبان وننگول چې گواکې دوی پر قران او سنتو له امریکا سره کړې هوکړې ته زیات ارجحیت او لومړیتوب ورکوي.
نن د طالبانو له رسمي ادرس څخه چې د (ورځې خبره) تر عنوان لاندې خپره شوې شننه کې چې د طالبانو رسمي دریځ څرگندوي راغلي: «مقابل طرف د طرزالعمل په جوړولو کې خنډونه ایجادوي، واحد دریځ نه لري، کله یو شی بهانه کړي او کله بیا د بل شي په پلمه د طرزالعمل په تیارولو کې ځنډ رامنځ ته کوي او د بین الافغاني خبرو فرصت له منځه وړي.» وړاندې طالبانو اندېښنه ښودلې چې ښایي د مقابل لوري مذاکراتي ټیم غواړي د (جگړه خوښو کړیو) له لوري د ورکړل شوي پلان له مخې مذاکرات وځنډوي او په دې توگه د جگړې په دوام کې خپلې گټې تر لاسه کړي، چې د دوی په خبره، اهدافو ته به ونه رسېږي او د ولس له کرکې سره به مخ شي.
د طالبانو دا دریځ او تر دې وړاندې له طالبانو سره د شویو هوکړو پر خلاف حنفي فقهې ته د اختلاف په صورت کې د رجوع کولو خبرې را ایستل، د حکومت له لوري او بیا د ولسمشر د مرستیال او د حکومت د ویاندویانو لخوا په دې اړوند د تحریف او پروپاگند په کچه بحثونو ته هوا ورکول د دې ښوودنه کوي، چې د ارگ میشتو واشنگټن ساتونکو او جمهوریت پالونکو په اوړو کې شگه، فساد او دسیسه ده.
طالبان او د دوحې په هوکړه د ټینگار دلایل:
هغوی چې د طالبانو او امریکا مذاکرات یې له نږدې څارلي وي او یا یې لږ تر لږه د طالبانو او امریکا تر منځ په دوحه کې د سولې هوکړه یې یوځل هم مطالعه کړې وي، نو ورته څرگنده شوې به وي چې دا هوکړه تر یوه ترون ډېر بحثونه رانغاړي، د امریکا د نظامي شتون د پای ته رسولو سربېره پکې په افغانستان کې د هر ډول سیاسي جوړجاړي بنسټیز مسایل حل شوي.
د بېلگې په توگه، یو له دغو بنسټیزو او مهمو بحثونو څخه له سولې وروسته په افغانستان کې د راتلونکي نظام او حکومتواله ډول او بڼه ده چې امریکایانو په واضح توگه هغه د غربي مفاهیمو پر خلاف د اسلامي حکومت په نوم منلي او ورسره د همکارۍ او سیاسي ملاتړ ژمنه کوي.
طالبانو د دوحې په هوکړه کې یوازې د امریکا په تایید هم بسنه ونه کړه، بلکې همدغه هوکړه یې د امریکا په لاس د ملگرو ملتونو امنیت شورا ته یوړه او هلته یې د ټولې نړۍ ملاتړ د خپلې هوکړې او په هوکړه کې د ذکر شویو ټکیو اړوند تر لاسه او خپلې هوکړې ته یې د یوه معتبر، نړیوال سیاسي، حقوقي او د امنیت شورا اجرایوي ملاتړ لرونکي سند حیثیت ورخپل کړ.
د روسیې د تاس آژانس د یوې شننې له مخې چې د طالبانو او امریکا د سولې هوکړې اجرایوي سند سیاسي ارزښت او حقوقي الزامیت یې د ۱۷ نړیوالو معتبرو سندونو په لړلیک کې خوندي بللی او له دې هوکړې څخه یې د نړیوالو کښالو د حل د یوې الگو سند په توگه یادونه کړې.
د سند دغه هر اړخیزوالی، نړیوال مشروعیت او ارزښت عملي پایله او ظاهر بالنص دلالت دا شو چې په افغانستان کې د سیاسي نظام بڼه او ډول باید د یوه نړیوال ملاتړ او غوښتنې پر بنسټ ژر تر ژره د افغانانو په غوښتنه او د نړۍ په ملاتړ چې نوم به یې د افغانستان اسلامي حکومت وي، تغیر باید وکړي، اساسي قانون باید ملغا یا پراخ او قانع کوونکي بدلونونه پکې راوستل شي، د قدرت د لېږد زمینه باید برابره او ژر تر ژره لنډمهاله یا سرپرست حکومت رامنځ ته شي څو یو ډول عادلانه او رڼو ټاکنو ته زمینه برابره شي.
واکمنې کړۍ او ارگ هم دا خبره درک کړې او دا چې تکیه یې هم د خدای او ولس پر ځای پر امریکا ده، نو پوهېږي چې امریکا د دوی پر سر معامله کړې او طالبان هم لکه دوی داسې مذبذبه نه دي چې له خپلو سرو کرښو او دریځونو تېر شي، بناً د دغه درک او واقعیت پر بنسټ دا چې خپله راتلونکې په ولس او وطن کې نه گوري، نو د خپل وروستي چانس په توگه هڅه کوي چې لومړی سوله ماته او ناکامه کړي، که داسې هم نه کېږي د سولې د تخریب او سبوتاژ له لارې د څه وخت لپاره په واک کې پاتې شي، ثروت ټول کړي او خپلو غربي بانکونو او اکاونټونو ته څه زرداري او مرداري ولېږدوي.
ارگبگیان او له دین څخه د ناوړې گټې کرغېړنه هڅه:
اوس که طالبان وتوانېږي چې دا ممکنه هم ده چې د دوحې د سولې هوکړه د بین الافغاني مذاکراتو بنسټ وگرځوي، نو دا په دې مانا ده چې طالبانو د بین الافغاني مذاکراتو برخلیک فیصله کړی او مخکې له دې چې مذاکرت پیل شي، په قطعي توگه یې هر څه د مذاکراتو په میکانېزم کې وگټل، هغه چاره چې د جمهوریت او غربي ډیموکراسۍ جنازه به د دغه اصل له بنسټ گرځولو سره په دوحه کې خاورو ته وسپاري.
نو په داسې یوه وضعیت کې چې نه ارگ واکو ته ولس ورپاتې دی، نه نظامي ځواک لري، نه سیاسي ملاتړ لري، ملي شتمنۍ او د ولس ملي امیانې یې هم یا امریکا، انگلستان او لبنان ته لېږدولې وي او یا یې په جعلي ټاکنو، د نظام د ننه سیالانو په ټکولو او بې ځایه لگښتونو کې مصرف کړې وي؛ نو د داسې واکمنو زوال حتمي دی، بقا یې محال ده او برخلیک یې حتمي مرگ دی.
داسې خلک او د زوال د ورځو غټان او رهبران بیا په سد کې نه وي، کله وایي ټول وطن مې ورغاوه، کله له بدخشان او لغمانه هند ته برېښنا لېږدوي او کله نا کله بیا قران او سنتو ته د مراجعې چلینجونه، استنادونه او بکتۍ غږوي.
حال دا چې د دوی شخصي ژوند به له همدغه قران او سنت سره په ټکر کې وي، څېره او بڼه به یې د دینداری او د قران او سنتو استازیتوب نه کوي، کردار، کړن دود او تگ تگه خو به یې بیخې له قران او سنتو سره اړخ نه لگوي.
د بېلگې په توگه، په کوم قران او سنتو کې د امریکایي ټانگونو، بمونو، اورونو او بارودو تر وحشتکارۍ او بربریت لاندې حکومتواله توجیح لري؟ په کوم نص کې راغلي چې تاسې خپل ولس د نیویارک او واشنگټن د ساتنې په موخه د مرگ، درد او زندان خولې ته ورکړی؟ د رسوالله (صلی الله علیه وسلم) کوم کردار او سنتو کې مو لیدلي چې د کفارو له لوري د وحشتونو هرکلی یې لکه د بمونو د مور بم هغه په شان وکړی او یا نعوذبالله له کفارو سره یې د خپل ملت او امت د وژلو، ربړولو او زندان ته اچولو قرارداد (لعنتي امنیتي تړون) لاسلیک کړی؟ په کوم قران او سنتو کې د غربي جمهوریت، ډیموکراسۍ او بدلمنۍ د غوره کولو او مسلمان ته د هغه د (سره کرښه) وړاندې کول ویل شوي؟ تیر ۲۰ کلن امریکایي یرغل، وحشتکارۍ، ظلمونه، فسادونه، بدنامۍ، ناخوښۍ، شپنۍ چاپې، د افغانانو د ملي، اسلامي او افغاني حرمت ماتول، کورگډۍ او بې کورۍ؛ د کوم ارزښت، قران او سنتو په رڼا او ورته مرجع کې وو او یا توجیح کېدای شي؟
پر همدې بنسټ، موږ په دې باور یو چې ستاسو بدنامۍ او همدا اوس له اسلامي نظام څخه انکار او پر غربي ماډلونو جمهوریت او ډیموکراسۍ ټینگار د دې ښوودنه او په دې بسنه کوي چې تاسو د قران او سنتو له لارې په خواشینۍ سره چې لرې او حتی ورسره په شدید ټکر کې روان یاست.
په داسې یوه وضعیت، کرکټر او دریځ کې چې طالبان هڅه کوي اشغال پای ته ورسوي، افغانان د یوه ټول منلي سوچه اسلامي نظام او حکومت په یوه محور او ټغر راټول کړي، بهرنۍ او د نړۍ دسیسې شنډې، ناکامې او رسوا کړي؛ د واشنگټن ساتنې، بلواکۍ او تپلواکۍ له دریځه د داسې تحریفي او تخریبي بحثونو مطرح کول او وړاندې کول له سولې او افغانستان سره له دښمنۍ پرته بل څه مانا او کېدای نه شي.

## <u>پکتیاوال:</u> حکومتي چارواکي د امنیت په خوندیتوب کې پاتې راغلي، له دندو دې استعفا ورکړي

د پکتیا اوسېدونکي د دغه ولایت د خراب امنیتي حالت په اړه شکایت کوي او وایي د گردېز ښار، ولسوالیو او لویو لارو امنیتي حالت تر بل هر وخت ډېر خراب شوی دی.
دوی تېره ورځ په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې نور دغه حالت ورته د منلو نه دی او که حکومت یې نه شي کنټرولولی، چارواکي دې استعفا ورکړي. د یاد ولایت قومي مشر صابري سلیمانخېل وایي چې په تېره شاوخوا یوه میاشت کې یوازې په گردېز ښار کې ۲۳ ځوانان او قومي مشران په هدفي وژنو کې وژل شوي دي.
سلیمانخېل اندېښمن دی که حالت داسې دوام وکړي، نو ځینې سیمې به د وسله والو طالبانو لاس ته ورشي. نوموړي زیاته کړې: «پکتیا کې ډاډمن امنیت نشته او هېڅ اطمینان نه لري. موږ په تېره یوه میاشت کې تقریباً۲۳ دولتي او غیر دولتي ځوانان او قومي مشران په هدفي وژنو کې له لاسه ورکړي. که چارواکي دا حالت نه شي سمولی او اقدام نه کوي، استعفا دې ورکړي.»
د کنفرانس یو بل گډونوال نیازمحمد وایي چې په دغه زون، په تېره په پکتیا کې د پخوا په شان د جگړې زیاتېدو وېره بیا ډېره شوې ده. محمد وایي چې په لومړي ځل د گردېز- شېږ ولسوالیو لویه لاره د وسله والو طالبانو له خوا تړل شوې او طالبانو پر دې لاره له لویو موټروړو پیسو اخیستو لپاره گمرک جوړ کړی دی.
نوموړي وویل: «د کلي امنیت نشته، د ولس نشته. یتیمان او کونډې تر سر پورته شول، ځوانان ټول خاورې شول، هدیرې مو له شهیدان ډکې شوې، له ډېرو شهیدانو دوه، دوه په یوه قبر کې ږدو. پلونه، پلچکونه، مکتبونه او جوماتونه تباه شول، ټول ملک یې دربدره کړ.»
مدني فعال محمد نعیم د وسله والو طالبانو د فعالیت ساحې پراختیا ته اندېښمن دی او وایي چې د نورو سیمو سربېره د زرمت ولسوالۍ امنیتي حالت هم تر بل هر وخت خراب شوی دی.
د پکتیا سرپرست امنیه قوماندان سمونوال لطف الله کامران هم د امنیتي حالت خرابېدو او لویو لارو ناامنه کېدو خبره تر یو بریده مني او وایي چې وسله وال طالبان سولې ته د ښه نیت لپاره د امنیتي ځواکونو له دفاعي حالت څخه ناوړه استفاده کوي.
کامران زیاتوي چې د امنیتي حالت ښه کولو لپاره پر گډ امنیتي پلان کار کوي چې له مخې به یې په امنیتي حالت کې ښه والی راشي.



# د جګړې اوسنی ډګر (افغانستان)؛ خو د علم او پوهې لرغوني زانګو!

لیکواله: زرینه - د چین میډیاګروپ خبریاله

څوک چې د لوی احمدشاه دراني، میرویس خان نیکه، سلطان محمود غزنوي، خوشحال خان خټک او نورو باتورو افغانانو تاریخ مطالعه کړي، نو د افغانستان عظمت ته به په دواړو لاسونو سلام وکړي. ما د دغه هېواد ژبه زده کړې او د تاریخ په اړه یې څه ناڅه معلومات لرم، نو ښایي له افغانستان او افغانانو سره زما د علاقې لامل همدا وي. تل دا دعا کوم چې دغه ټپي زمری دې روغ شي چې هم له خپل ځانه دفاع وکړي او هم د ابن سینا بلخي، مولانا جلاالدین محمد بلخي رومي، سیدجماالدین افغان او نورو په شان پوهان نړۍ ته وړاندې کړي.

کله چې په رسنیو کې د افغانستان په اړه مثبت خبر واورم، د خوښۍ احساس کوم او کله چې منفي او د غم خبرونه واورم؛ نو زړه مې بد شي، لنډه دا چې کټ مټ د خپل هېواد په شان مینه ورسره لرم.

دې ورځو کې مې د افغانستان په اړه دوه مثبت خبرونه واورېدل، یو دا چې د صبغت الله په نوم ۱۱ کلن افغان ماشوم د ریاضي مضمون په یوه سیالۍ کې د ځلوبښتو هېوادونو په کچه لومړی مقام خپل کړ.

خبر وایي، صبغت الله په اصل کې د هلمند اوسېدونکی دی او د هرات په افغان- ترک لومړني ښوونځي کې د څلورم ټولګي زده کوونکی دی.

سیالي په کمبوډیا کې وه چې له بېلابېلو هېوادونو تر څلورو زرو ډېرو زده کوونکو ګډون پکې کړی و.

صبغت الله افغان رسنیو ته ویلي چې د دې ازمویني ډول له نورو سره توپیر درلود او د سوالونو د ځوابولو لپاره وخت کم و.

مناسبه ګڼم چې په دې اړه ووایم چې بازخانه بې بازه نه وي، افغانستان د علم او پوهې ټاټوبی دی، د ابن سینا بلخي، مولانا جلاالدین محمد بلخي رومي، سید جماالدین افغان او امام ابوحنیفه په شان پوهانو کور دی، پوره باور لرم چې که زمینه ورته برابره شي، نو هر بچی به یې د صبغت الله په شان وځلېږي او افغانستان به یوځل بیا د علم او پوهې زانګو شي.

بل خبر مې دا ولید چې چین له افغانستان سره د یو میلیون ډالرو په ارزښت د طبي وسایلو د بلې جوپې مرسته وکړه.

د دغه خبر په لیدو مې هم د خوښۍ احساس وکړ، د خوښۍ یو لامل مې دا و چې دوه پخواني دوستان یو له بل سره په غم او ښادۍ کې شریک او نږدې دي او بل لامل یې دا و چې افغانستان دې مرستو ته اړتیا لري او هیله ده چې دغه مرسته د کوویډ- ۱۹ وبا په مخنیوي کې ګټوره ثابته شي.

البته باید ووایم چې دا له افغانستان سره د کوویډ- ۱۹ ویروس د مبارزې په برخه کې د چین د مرستو شپږمه جوپه ده، چې د خبر د معلوماتو له مخې، تر اوسه د ټولو مرسته شویو موادو وزن شاوخوا شلو ټنو ته رسېږي.

خبر کې راغلي چې یاد توکي د اکتوبر په اتمه په افغانستان کې د چین سفیر د حامد کرزي په نړیوال هوایي ډګر کې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت سرپرست ته وسپارل.

د دغه خبر له مخې، د افغانستان د روغتیا سرپرست وزیر د یادو موادو تر لاسه کولو پر مهال د چین د پرله پسې مرستو مننه وکړه او زیاته یې کړه چې په افغانستان کې د کرونا لومړۍ څپه کنټرول شوې ده، خو د دویمې څپې خطر موجود دی او د کنټرول لپاره یې پوره چمتووالی نیول شوی.

په افغانستان کې د چین سفیر وانګ یو ویلي، چې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ته یې د یو میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت طبي وسایل وسپارل او تر څنګ یې د کرونا ناروغۍ د مخنیوي په موخه پوهنې وزارت، سرې میاشتې او محلي ارګانونو خپلواکې ادارې ته ځینې صحي بستې ورکړې دي، چې د افغانستان ټولو ولایتونو ته یې ورسوي.

که څه هم دا مرسته به له کوویډ- ۱۹ ویروس سره د مبارزې په برخه کې کمه وي او افغانستان ډېرې مرستې ته اړتیا لري، خو د هغه اصطلاح په خبره چې «برګ سبز تحفه درویش» یانې که تحفه څومره کوچنۍ هم وي، خو چې د صداقت له مخې وي؛ نو ډېر ارزښت لري او په دې هیله چې د دوستو هېوادونو تر منځ د دا ډول تحفو تبادله دوام وکړي.

تېر کال مې چې په لومړي ځل خبر واورېد چې په افغانستان کې د کوویډ- ۱۹ مثبته پېښه ثبت شوې، که څه هم هغه مهال په چین کې هم د یاد ویروس پېښې ډېرې وې او پر وړاندې یې بېړنی حالت اعلان شوی و او هېڅوک نه پوهېدل چې څوک روغ او څوک ناروغ دي؛ خو زما له افغانستان سره اندېښنه ځکه پیدا شوه چې په دې هېواد کې له یوې خوا د جګړې شدت دی او د حکومت ټول پام جګړې ته اوښتی، د نورو برخو په شان طبي برخه هم د جګړې تر اغیزې لاندې راغلې او په ورته وخت کې به دغه هېواد ته د کوویډ- ۱۹ ورتګ د حکومت او ولس په تېره بیا طبي ټولنې د اوږو بار او مسوولیت لا درونډ کړي او اندېښنه مې دا وه چې خدای مه کړه یاد ویروس د افغانانو ملا ټیټه نه کړي.

خو له نېکه مرغه چې یاد ویروس په افغانستان کې د نورې نړۍ په پرتله ډېر شدت پیدا نه کړ او د خدای شکر دی چې مرګ ژوبله یې دومره ډېره نه وه.

خو لا هم اندېښنې پر ځای دي، ځکه د روغتیا نړیوال سازمان خبرداری ورکړی چې د ژمي او یخنۍ په رارسېدو سره په نړۍ کې د کوویډ- ۱۹ ویروس د بلې څپې خطر لا هم پر خپل ځای دی.

په حقیقت کې دغه ویروس یوه نړیواله وبا ده، نو ځکه یې باید نړیوال په ګډه مخه ونیسي، شتمن او مخکښ هېوادونه باید له بې وسه او په تېره بیا له جګړې ځپلو هېوادونو سره مرسته وکړي.

هماغه ډول چې د روغتیا نړیوال سازمان مشر او د چین حکومتي مشرانو په خپرو خبرو کې پر دې خبرې ټینګار کړی، چې د کوویډ- ۱۹ ویروس پر وړاندې مبارزه به تر هغې بریالۍ نه شي چې آن په ډېرو وروسته پاتې هېوادونو کې هم د دغه ویروس تغر ټول شوی نه وي.

هیله ډېره ده چې چین به له افغانستان سره په ټولو برخو، په ځانګړې توګه طبي برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي، ځکه د چین ولسمشر څه موده وړاندې د روغتیا نړیوالې غونډې ته د وینا پر مهال ویل، چې چین کولای شي له کوویډ- ۱۹ ویروس سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان او نورو دوستو هېوادونو سره لا ډېرې مرستې وکړي.

# کابل امن نه دی؛

## د وسله والو غلاوو او جنایتونو اوج کابل ښاریان اندېښمن کړي دي



میاشتې کېږي چې په کابل ښار کې وسله والو غلاوو او جنایي جرمونو د وېرې او وحشت تیاره خوره کړې ده. سره له دې چې په لسګونه ځله رسنیو په کابل کې د روانو نا امنیو په اړه راپورونه خپاره کړي، خو حکومتي مسوولین په دې اړه بې پروایي کوي او داسې ښکاري چې فساد او غیر قانوني چلندونه د دې سبب شوي چې نا امني او جنایي جرمونه ډېر شي.

تازه کابل ښاریانو په ټولنیزو رسنیو کې د کابل امن نه دی تر نامه لاندې کمپاین پیل کړی او غواړي حکومتي مسوولین یې خپلو دندو ته متوجه کړي.

له میاشتو راهیسې کابل ښاریان له جنایي پېښو او وسله والو غلاوو ځورېږي، خو اوس تازه د دغو پېښو ډېرېدو خلکو ته سختې اندېښنې پیدا کړې دي. په کابل کې نږدې هره کورنۍ له دې درکه زیانمنه شوې او امنیتي مسوولین د ولس غوښتنو ته هېڅ ډول ځواب نه وایي.

د کابل امنیه قوماندان تازه ګومارل شوی، خو د هغه په راتګ سره د کابل ښار په امنیتي وضعیت کې هېڅ ډول بدلون نه دی راغلی. د کابل ښار له مرکزي سیمو نیولې تر لرې سیمو او امنیتي حوزو پورې په هره سیمه کې وسله وال غله شته او د خلکو ژوند ته ګواښ متوجه کوي. د کابل ښار په لومړۍ امنیتي حوزه کې د ارګ په څو مترۍ کې هغه ځوان وسله والو غلو ووژه چې تازه له ښوونځي فارغ شوی و او پوهنتون ته په لوړو نومرو بریالی شوی و. د کورنۍ غړي یې وایي چې امنیتي مسوولین په خپلو دندو کې غفلت کوي چې له امله یې هره ورځ د ځوانانو ژوند له خطر سره مخ دی.

د کابل د پنځمې حوزې په مربوطاتو کې د ګڼو امنیتي پېښو تر څنګ د وسله والو غلاوو او جنایي جرمونو پېښې هم ډېرې دي. د کابل ښار په کمپنۍ سیمه کې څلور ورځې وړاندې یو غریبکاره کس هغه مهال د غلو لخوا ووژل شو چې له خپلې مزدورۍ د کور پر لور روان و. د هغه سپین ږیري پلار وویل: ((زوی مې غریبکار و، همدا یوه کس کور ته ډوډۍ راوړه، هېڅ هم ورسره نه وو، غلو وژلی، حکومت یې باید وژونکي ونیسي)).

په کابل کې یوازې دا ستونزه نه ده، هدفي وژنې هم هغه څه دي چې د ښاریانو په تېره بیا د حکومتي مامورینو د ژوند کړۍ یې تنګه کړې ده. پرون د رحمان بابا مېنې په مربوطاتو کې یو امنیتي افسر د خپلو کور په مخکې د وسله والو له لوري ووژل شو. د هغه د کورنۍ غړي وایي چې حکومت یې په وژلو کې ښکېل دی. د وژل شوي افسر محمد یاسین خور وایي: ((څوک یې وژني؟ همدا ډاکټر عبدالله او همدا ډاکټر اشرف غني یې وژني، بل څوک یې کله وژلی شي)).


د کابل د اتمې حوزې اوسېدونکي وایي، په وروستیو دوو میاشتو کې یې په سیمه کې نا امنۍ او جنایي پېښې خورا ډېرې شوې دي. د دې سیمې د اوسېدونکو په وینا، په وروستیو میاشتو کې په هره اونۍ کې د دوو یا دریو ځوانانو جسدونه خاورو ته سپاري. د دوی په خبره، دغه ځوانان یا غلو وژلي او یا هم د هدفي وژنو او جنایي جرمونو قرباني وي. د کابل ښار اوسېدونکی محمد مهدي بیا حکومت بې کفایته بولي او په خبره یې ولسمشر او د کورنیو چارو وزیر خپل مسوولیتونه په سمه توګه نه ترسره کوي. د ده په خبره: ((نه ولسمشر د ولسمشر په څېر دی او نه هم د کورنیو چارو وزیر د وزیر په څېر دی. دوی څه کوي؟ د خلکو امنیت خو نه شي نیولی)).

له دې سره جوت د ولسي جرګې ځینې غړي وایي چې ولسمشر د خلکو وضعیت ویني، د امنیتي ادارو کمزوري ویني، نو ولسمشر د دفاع لپاره څه نه لري. د دوی په خبره: ((دا هر څه ویني، خو د ویلو لپاره څه نه لري، ځکه پټه خوله دی)).

د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي بیا وایي، دوی له روان امنیتي وضعیت خبر دي او د امنیتي وضعیت په اړه د خلکو اندېښنې ورته مهمې دي.

بلخوا د په کابل کې د نا امنیو په اوج کې کابل ښاریانو په ټولنیزو رسنیو کې د کابل امن نه دی تر نامه لاندې کمپاین پیل کړی او د روانو غلاوو او جنایتونو په اړه شکایتونه کوي، چې مسوولین یې دندو ته متوجه کړي، خو تر دې دمه دغه کمپاین کوم اغېز نه دی لرلی.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر یو میلیون او ۷۳ زره او ۷۷۶ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۳۷ میلیونه او ۱۸۲ زره او ۶۳ ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۷۳ زره او ۷۷۶ کسان مړه شوي او نږدې ۲۸ میلیونه تنه بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې اووه میلیونه او ۸۹۸ زره او ۶۰۹ ته رسېدلي او ۲۱۸ زره او ۷۱۸ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د کرونا وبا د شپږ میلیونه او ۹۸۰ زره او ۲۲۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۵۷ زره او ۱۹۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۲۸۵ زره او ۸۴ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او کولمبیا د ۸۹۴ زره او درې سوو مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

هسپانیا، ارجنټاین، پېرو، مکسیکو او فرانسه په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته وخت کې د اروپا په ګڼون په ډېریو هېوادونو کې د دغه ویروس دویمه څپه هم خپره شوې او ورسره سم لرې کړل شوي محدودیتونه بېرته د سختېدو په حال کې دي.


بلخوا د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي، که په تهران کې کرونا سپارښتنې په پام کې ونه نیول شي، سرغړوونکي به یې جریمه شي. په دغه هېواد کې د ماسک اغوستل بېرته اجباري شو او هر څوک چې له دغو سپارښتنو سرغړونه وکړي، ۵۰ زره تومانه به جریمه شي. ایراني چارواکې وايي، کرونا په ایران کې سرې کرښې ته رسېدلې او ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې ده. حسن روحاني وایي، ټول پوځ ته یې امر کړی چې په ښار کې د ماسک له نه اغوستونکو سره قانوني چلند وکړي او جریمه یې کړي.

## د کتـاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### څلورم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ پروړاندې پرتې ستونزې




د افغانستان او سیمې د نورو هېوادونو د مشرانو د هڅو په پایله کې د ځینو سترو اقتصادي پروژو د جوړېدو چارې پیل شوي او د ځینو نورو پروژو د جوړېدو چارې به په راتلونکي کې پیل شي. د سترو سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو تطبیق به له یوه لوري د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اعتماد رامنځ ته کولو او د سیاسي اړیکو د پراختیا سبب شي او له بل لوري به په سیمه کې د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره مرسته وکړي . د سیمه‌ییزې همکارۍ پر وړاندې خنډونه او ستونزې هم شته دغه ستونزې د دې سبب شوې چې په سیمه کې سیمه‌ییزه همکاري په چټک ډول پراختیا پیدا نه کړي او د ځینو سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو د تطبیق مخه ونیول شي . د سیمه‌ییزې همکارۍ پروړاندې د موجودو ستونزو حل کول د سیمې د ټولو هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو مسئولیت دی څکه چې د دغو ستونزو او خنډونو لرې کول به د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي. د سیمه‌ییزې همکارۍ څرنګوالی د افغانستان او سیمې په امنیتي حالاتو او د سیمې د هېوادونو او نړیوالو قدرتونو په تګلارو پورې تړلی ګڼل کېږي د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره لازم ظرفیتونه، فرصتونه او امکانات موجود دي، که د سیمې د هېوادونو مشران او سیمه‌ییز سازمانونه له دغو فرصتونو سمه ګټه واخلي، نو په دې صورت کې به «افغانستان» د سیمه‌ییزې همکارۍ پر «مرکز» بدل شي، د سیمې ټولنیز او اقتصادي وضعیت کې به مثبت او ګټور بدلونونه رامنځ ته شي، اقتصادي پرمختګ او د سولې او ثبات ټینګښت لپاره به زمینه او شرایط برابر شي .

د سیمې د هېوادونو ترمنځ ګډ تاریخي، فرهنګي مشترکات او ارزښتونه کولای شي د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو له پراختیا سره مرسته وکړي او د یو ګډ سیمه‌ییز فرهنګ، تمدن او هویت رامنځته کېدو سبب شي، هرڅومره چې د سیمې هېوادونه د ملي هویت او فرهنګ پر ځای سیمه‌ییز فرهنګ ته مخه کړي په هماغه اندازه به سیمه‌ییزه همکاري پراختیا پیدا کړي د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا نه یوازې د افغانستان بلکې د سیمې د ټولو هېوادونو د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پراختیا سبب کېږي د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا د سیمې د ټولو هېوادونو د ملي ګټو له خوندیتوب سره مرسته کولای شي. له ملي ګټو څخه تېرېدل او د سیمه‌ییزو ګټو په پام کې نیول به د سیمې د هېوادونو ترمنځ له یوه لوري دوه اړخیز پوهاوی او باور رامنځته او له بل لوري به په سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت سبب شي . د سیمې ثبات، امنیت او اقتصادي پرمختګ د سیمې د ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه د افغانستان په حالاتو پورې تړلی ګڼل کېږي. د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا به په افغانستان کې د ثبات له ټینګښت سره مرسته وکړي، له همدې امله د سیمې له هېوادونو سره د همکاریو پراختیا باید د افغانستان د دولت د بهرني سیاست اساسي او مهمه برخه واوسي .

د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا له افغانستان او د سیمې له هېوادونو سره د اقتصادي او صنعتي ودې او سوداګریزو اړیکو له پراختیا سره مرسته کولای شي، اوسمهال افغانستان د خپلو ستونزو د حل لپاره د سیمې د هېوادونو مرستې او سیمه‌ییزې همکارۍ ته ډېره اړتیا لري . افغانستان نه شي کولای او ممکنه هم نه ده چې د تل لپاره د امریکا او نړیوالې ټولنې په مرستو او همکاریو تکیه وکړي، له افغانستان سره د امریکا او نړیوالې ټولنې مرستې او همکاري محدودیتونه لري او تر یوه ټاکلي وخت پورې به دوام پیدا کړي له همدې امله د افغانستان حکومت مجبور دی د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره معقول او مناسب بدیل پیدا کړي، افغانستان پر دې توانېدلی چې په مختلفو برخو کې د سیمه‌ییزې پانګونې لپاره زمینه برابره کړي او ځینې بهرني پانګه وال په افغانستان کې پانګونې ته وهڅوي افغانستان چې د طبیعي موادو پراخې زېرمې لري، کولای شي د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په وسیله د سیمې د هېوادونو پانګونه جذب کړي . د افغانستان حکومت د خپل بهرني سیاست له مخې هڅه کوي، چې د سیمې له هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو سره اړیکو ته پراختیا ورکړي. سیمه‌ییزې همکارۍ په سیمه کې د سولې او ثبات له ټینګښت، اقتصادي ودې او پراختیا، دوه اړخیز باور او تفاهم رامنځته کېدو سبب شي او د سیمه‌ییزې همکارۍ په وسیله به د سیمې هېوادونه وکولای شي خپلې ستونزې حل او خپلې اړتیاوې پوره کړي .

**دوام لري...**

# البرز د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



البرز د لوړو زده کړو خصوصي موسسې خپلې لومړنۍ او رسمي چارې په ۱۳۹۴ کال کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ او د دې وزارت په چوکاټ کې په بلخ ولایت کې د دریو پوهنځیو (حقوق او سیاسي علوم، اقتصاد او انجنیري) په درلودلو سره پیل کړې دي. دا چې د لوړو زده کړو د دغه موسسې د فعالیت دومره موده نه کېږي او بل دا چې د ولسمشر په امر لوړو زده کړو وزارت د نویو پوهنتونونو تاسیس او په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو جوړول تر نامعلومې نېټې پورې ځنډولي دي، نو البرز د لوړو زده کړو موسسه کې هم نوي پوهنځي نه دي ایجاد شوي او یوازې همدا درې پوهنځي لري چې محصلین پکې زده کړې کوي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې درې فعال پوهنځي بیا په خپل چوکاټ کې دوه دوه ډیپارټمنټونه لري، چې حقوق او سیاسي علومو پوهنځی یې (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي)، اقتصاد پوهنځی یې (مالي-بانکي او اداره او تجارت) او انجنیري پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه لري.

د لوړو زده کړو په دې موسسه کې اوسمهال د پنځو سوو په شاوخوا کې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي. د دې موسسې د سرپرست رییس ښاغلي محب الله ظفر نژاد په خبره، دا چې دوی د ښځینه محصلینو لپاره ځانګړی امتیاز لري، نو ویلای شي چې د محصلینو څلوېښت سلنه یې ښځینه دي. دا چې د لوړو زده کړو یادې موسسې تر اوسه پورې پوهنتون ته ارتقاع نه ده کړې او نه یې هم ټاکلي معیارونه پوره کړي دي، نو په کوم پوهنځي کې د ماسټرۍ پروګرام هم نه لري، خو ظفر نژاد وایي چې په پام کې لري څو په راتلونکي کې د ماسټرۍ پروګرام هم پیل کړي.

دی وایي، تر اوسه پورې یې کومه دوره محصلین نه دي فارغ کړي، خو همدا سږ کال یې خپله لومړنۍ دوره محصلین فارغول، چې له بده مرغه د فراغت مراسم او چارې یې د کرونا ناروغۍ او قرنطین له کبله ځنډېدلې دي.

دا چې البرز د لوړو زده کړو موسسې تازه خپلې چارې پیل کړې دي، نو په کلني ډول یې د نویو محصلینو جذب هم دومره ښه نه دی. ښاغلی محب الله ظفر نژاد وایي، چې امنیتي او اقتصادي شرایطو ته په کتو یې د نویو محصلینو جذب هم ټوپیر کوي، خو په ټوله کې ویلای شي چې هر کال دوی د دوو سوو په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي.

د البرز د لوړو زده کړو موسسې اداره د محصلینو لپاره دوه ډوله تخفیف لري، چې په یوه ډول کې یې ټول محصلین شامل دي. د دې موسسې سرپرست رییس محب الله ظفر نژاد وایي، په ټوله کې د نورو خصوصي پوهنتونونو په پرتله د دوی موسسه محصلینو ته ډېر تخفیف ورکوي او په دویمه کټه‌ګورۍ کې بیا د شهیدانو او معلولینو کورنیو ورثه شامل دي چې دوی ته بیا ځانګړی تخفیف ورکوي. دی وایي، همدا تېر کال یې ډېرې د دې کورنیو غړي په وړیا ډول جذب کړي او خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکوي.

د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د تدریس چارې د پر کارپوه، تجربه لرونکو او مسلکي استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې دوکتور او ماسټر پکې شامل دي. ښاغلی ظفر نژاد وایي، هڅه یې دا ده چې داسې استادان پر دندو وګوماري چې ټولنې ته مسلکي کسان د خدمت په موخه وړاندې کړي. په البرز د لوړو زده کړو موسسه کې له غرمې وروسته په دوو وختونو کې تدریس کېږي او محصلین د زده کړو لپاره ورځي.

دا چې البرز د لوړو زده کړو خصوصي موسسه خپله دایمي ودانۍ لري، نو له دې سره سره یې یو مجهز کتابتون هم جوړ کړی دی. ښاغلی محب الله ظفر نژاد وایي، چې که څه هم چې د کتابونو شمېر یې ډېر نه دی، خو هڅه یې دا ده چې کتابتون نور هم غني کړي. دی وایي، اوسمهال یې د دریو زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه په یاد کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي، چې محصلین او استادان یې کولای شي وخت ناوخت له کتابتون څخه ګټه واخلي. د البرز د لوړو زده کړو موسسه په کور د ننه له پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري، خو له هېواده بهر بیا تر اوسه پورې له کوم پوهنتون سره علمي اړیکې او یا هم د علمي اړیکو کومه هوکړه نه لري، خو د ظفر نژاد په خبره چې کله یې پوهنتون ته ارتقاع وکړه، نو بیا به هغه وخت له بهرنیو پوهنتونونو سره په اړیکو او هوکړو فکر کوي.

د ظفر نژاد په خبره، په ټوله کې یې محصلینو ته اکاډمیکه فضا برابره کړې ده او تر اوسه یې ټول هغه امکانات محصلینو ته په واک کې ورکړي دي، چې د لوړو زده کړو یوه موسسه یې باید ولري. ښوونیز پروګرامونه، کمپیوټر لب او د انګلیسي ژبې د زده کړې مرکز د دې موسسې نور هغه امکانات دي، چې د محصلینو په واک کې یې ورکړي دي.

د نویو پوهنځیو ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسټرۍ پروګرام پیلول او په هر اړخیزه توګه پرمختګ کول د البرز د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي. د دې موسسې رییس وایي چې دوی دغه بنسټ یوازې د ځوانانو لپاره د زده کړو د زمینې برابرولو په موخه جوړ کړی دی او یوازینۍ هیله یې هم همدا ده چې وکړای شي ډېرو کسانو ته د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي.

ظفر نژاد له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې پر خصوصي پوهنتونونو خپل نظارت زیات کړي، خو تر څنګ یې لارښوونه او مرسته هم وکړي، څو دغه پوهنتونونه پر خپلو پښو ودرېږي. دی وایي، اوسمهال لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو لپاره ډېر سخت شرایط وضع کړي، چې عملي کول یې د دوی لپاره یو څه سخت او نوي دي. دوی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې له خصوصي پوهنتونونو سره په هر اړخیزه توګه مرسته وکړي او داسې امکانات ورته برابر کړي چې وکولای شي پرمختګ وکړي او پر خپلو پښو ودرېږي.

دا چې خصوصي پوهنتونونه په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو د دولت او په ځانګړې توګه د لوړو زده کړو وزارت لازمې مرستې او همکارۍ ته اړتیا لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۹,۶۰ |
| Rp. | ٤۷۷ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۶۰ |
| £ | ۹۸,۷۰ |

### بیړنۍ شميرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# شپږ ډوله هغه څښاک چې د بدن غوړي اوبه کوي

ژباړه: عایشه حیدري

مناسب وزن؛ د ډېرو خلکو هیله ده او هغه خلک چې ډېر کم وزن لري او ډېر ډنګر دي، د چاغوالي او د وزن د زیاتېدلو هیله لري، خو بلخوا هغه خلک چې ډېر وزن لري، غواړي خپل وزن کم کړي، دغه دواړې ډلې خلک موخې ته د رسېدو لپاره بېلابېلې لارې چارې لټوي او نه ستړې کېدونکې هڅې کوي، خو باید یادونه وکړو چې هېڅ څوک نه غواړي تر کچې ډېر چاغ او یا هم ډنګر شي.

روغتیاپالان هم وایي چې د انسانانو لپاره تر ټولو ښه او غوره اندام برابر منځنی یا متوسط وزن دی، دا ځکه چې ډېر چاغوالی او همدارنګه ډېر ډنګروالی د انسان روغتیا ته ډېر زیانونه رسولای شي.

په دې لیکنه کې درته هغه شربتونه یا جوس در پېژنو چې له تاسې سره د وزن په کمولو کې مرسته کولای شي:

۱- د ځمکني توت او سوډا جوس

سوډا یوازې د کلچو او کېکونو په پخولو کې نه کارول کېږي، بلکې د نورو روغتیايي ګټو تر څنګ، سوډا کولای شي ستاسو د بدن اضافي غوړ او وازدې هم اوبه کړي. د سوډا او ځمکني توت جوس په لاندې ډول چمتو کړئ:

ځمکني توت یا Strawberry یوه پیاله جوس یا په همدې اندازه ځمکني توت، د نعنا څو پاڼې، یوه کاشوغه سوډا، دوه دانې لېمو او دوه ګیلاسه اوبه په میکسر کې واچوئ، کله چې دغه مواد سره یو ځای شي ستاسو د بدن د غوړیو اوبو کولو لپاره یو ښه جوس جوړېږي. تاسو کولای شی د ورځې دوه ځلې دغه جوس یا شربت وڅښئ، که مو خوښه وي د یخ یو-دوې ټوټې هم پکې واچوئ څو د جوس خوند لا زیات شي.

۲- د دنیا او شاتو شربت

د بدن د غوړو او وازدو د ویلې کولو او وزن کمولو لپاره بل غوره څښاک د دنیا او شاتو شربت دی. په دغه شربت کې چې کوم کیمیاوي مواد شته، د بدن د غوړو او وازدو په اوبه کولو کې مرسته کوي. د دې شربت د څښلو غوره وخت تر خوب وړاندې وخت دی، ځکه کله چې تاسو ویده یاست، نو دغه شربت د وجود مېکروبونه تصفیه کوي او د بدن غوړ اوبه کوي.

که غواړئ چې دغه جوس چمتو کړئ، یوه ګېډۍ دنیا (ګشنیز)، یو دانه لېمو، یوه کاشوغه د منې سرکه، یوه کاشوغه شات او یا زنجبیل، یوه کاشوغه دارچین او دوه ګیلاسه اوبه په میکسر کې واچوئ او ښه یې سره ګډ کړئ. د څښاک غوره وخت یې تر ویده کېدو وړاندې دی.

۳- د لېمو او ادرک جوس

زنجبیل یا ادرک د بدن روغتیا ته ډېره ګټه لري، دغه ماده د بدن ساتونکی یا دفاعي سیستم پیاوړی کوي او د بدن د غوړو د اوبو کېدلو لامل کېږي او کله چې د بدن غوړ ویلې یا وسوځېږي، خوړل شوې خواړه ډېر ژر هضم کېږي.

د زنجبیل او لېمو د جوس جوړول ډېر اسانه دي، لومړی ادرک یا زنجبیل په اوبو کې و ایشوئ او وروسته بیا د لېمو اوبه ور زیاتې کړئ! په دې جوس کې د خوړو د ور زیاتولو سپارښتنه نه کوو، خو بیا هم که تاسو غواړئ د خواږه خوند د ور زیاتولو لپاره یوه کاشوغه شات پکې ور اچولی شئ. تاسو کولای شی د ورځې په لړ کې هر کله مو چې زړه وغوښتل دغه جوس وڅښئ.

۴- د چیا تخم او لېمو

د چیا تخمونه (Chia seeds) د بدن د مېکروبو په پاکولو کې ډېره مرسته کوي او د انټي اکسیډېنټ غوره سرچینه ده. د چیا دانې یا تخمونه د بدن د غوړو په ویلې کولو یا سېزلو سره مرسته کوي او بدن ته انرژي ورکوي.

د چیا او لېمو جوس د جوړولو لپاره یوه کاشوغه د چیا دانې یا تخمونه د لېمو اوبو کې واچوئ او د لسو دقیقو لپاره یې همداسې پرېږدئ. دغه جوس په ګرمو او سړو دواړو بڼو څښل کېدای شي.

۵- د ګرېپ فروټ او د منې د سرکې جو س

چکوتره یا ګرېپ فروت Grapefruit د لېمو او نارنجو غوندې تروه مېوه ده. د چکوترې او د منې سرکې جوس د وینې قند تنظیموي، د بدن مېکروبونه له منځه وړي او د بدن غوړ سوځوي.

د دغه جوس په جوړښت کې د سرکې کیفیت ته باید ډېر پام وشي او د غوره کیفیت لرونکې سرکه باید وکارول شي او هغه سرکه وټاکئ چې کیفیت یې لوړ وي. د دغه شربت جوړولو لپاره یوه پیاله د ګرېپ فروټ اوبه، یوه کاشوغه د منې سرکه او نیم ګیلاس د نعنا چای سره یو ځای کړئ. د دې لپاره چې د بدن غوړ ژر تر ژره اوبه شي، تر ډوډۍ یوه ګړۍ وړاندې د دغه جوس څښل ډېر ګټور دي.

۶- ګرین سموتي (Green Smoothie)

ګرین سموتي زرغون رنګه نباتي جوس دی چې د بدن د هاضمې سیستم پیاوړی کوي.

د دغه جوس تر څښلو وروسته، د ورځې په اوږدو کې که هر ډول خواړه وخوړل شي، نو معده یې ژر هضموي، ځکه دغه جوس د دې لامل کېږي چې د خوړو د خوړلو له امله په بدن کې کاربوهایډرېټ تولید نه شي.

د دغه شربت جوړولو لپاره یو دانه اناناس، یو بادرنګ، یو دانه د کرفس یا سلېري Celery بوټی چې ٦ سانتي متره وي (سلېري بوټۍ د ګازرې له کورنۍ څخه دی او پاڼې او د ګازرې په شان ریښه یې اومه خوړل کېږي)، یو دانه رومي بانجان او یوه کوچنۍ مولۍ په میکسر کې واچوئ او ښه یې سره ګډ کړئ. تاسو کولای شئ له سباناري څخه نیمه ګړۍ وړاندې دغه جوس وڅښئ.

د وزن کمولو او د بدن د غوړو او وازدو د اوبه کولو لپاره د دغو جوسونو تر څنګ، تر ټولو ښه لاره ورزش کول دي. اړ نه یاست چې ستونزمن او سخت ورزش وکړئ، که د ورځې په لړ کې نیمه ګړۍ پلې مزل هم وکړئ، ستاسو د وزن په کمښت کې مرسته کوي.

ورزش وکړئ، څو روغ پاتې شئ!

## دانش: طالبانو د جګړې او تاوترخوالي د دوام له کبله د سولې پروسې پر وړاندې خنډونه رامنځته کړي



د سولې د خبرو پر کړنلاره د افغان حکومت او طالبانو د مرکچي پلاوو د اختلافونو په غځېدو سره، اوس افغان حکومت وايي، چې د خبرو بنسټ باید قران او سنت وي.

ولسمشرغني دويم مرستیال سرور دانش وايي، د سولې برخه کې دولت تل عمل کړی، خو طالبانو بیا پلمې لټولې دي.

دانش تېره ورځ په لويې څارنوالۍ کې يوې غونډې ته په خبرو کې ویلي، د طالبانو له خوا د اوربند نه منل، د دې ډلې له خوا د جګړې او تاوتریخوالي زیاتوالی او د سولې د بین الافغاني خبرو په کړنلاره کې پر ځینو اختلافي موارد ټینګار، د افغانستان دولت ته یو ښه موقف ورکړی دی.

هغه ټینګار وکړ چې د طالبانو بر عکس د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی ټینګار کوي، چې د افغانانو تر منځ د سولې د خبرو بنسټ باید قران او سنت وي. نوموړي زیاته کړه: «نن د طالبانو پلاوی پر دې ټینګار کوي چې د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه دې د هر څه بنسټ وي، په داسې حال کې چې د افغان پلاوي له لورې وړاندیز شوی چې د ټولو خبرو بنسټ دې قران او سنت وي.»

په ورته وخت کې د افغان پلاوي مشر معصوم ستانکزي هم پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي، هیله من دی چې د سولې مذاکرات د قران او سنت په رڼا کې د خلکو د غوښتنو پر بنسټ مطلوبه پایله ولري، خو طالبان بیا دغه څرګندوني پلمه لټول یادوي او وايي چې د بین الافغاني خبرو بنسټ باید د طالبانو امریکا ترمنځ هوکړه او حنفي فقه وي. د طالبانو ذبیح الله مجاهد ازادي راډیو ته په لېږلې پیغام کې ویلي، چې افغان دولت غواړي د امریکا او طالبانو ترمنځ شوې هوکړه چې بنسټ یې قران او سنت دی، بې اعتباره کړي.

په ورته وخت کې په قطر کې د خبرو له څو ورځنی ځنډ وروسته، د افغان حکومت د مرکچي پلاوو یو شمېر غړو ویلي، ښایي د دواړه لورو تماس ډلې به ښايي نن ناسته ولري، خو د طالبانو سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم وايي، تراوسه د ناستې اټکل نه دی شوی.

## مجیدي: د وکیلانو د نیمګړي نصاب له کبله سل تقنیني فرمانونه له تصویبېدو پاتې دي



په پارلماني چارو کې د دولت وزیر وايي، له سلو ډېر تقنیني سندونه د تصویب لپاره د ولسي جرګې پر مېز پراته دي. دا په داسې حال کې ده چې د اساسي د پنځم فصل په ۹۰یمه ماده کې راغلي، چې ملي شورا د قوانینو او تقیني فرمانونو د تصویب، تعدیل او لغوه کولو صلاحیت لري.

خو په پارلماني چارو کې د دولت وزیر ګل پاچا مجیدي وايي، داسې تقنیني سندونه هم شته، چې له تېر يوه کال راهیسې د ولسي جرګې پر مېز پراته دي، خو تصویب شوي نه دي.

مجیدي زیاته کړې: «زموږ ارقام ښیي چې ۱۱۰ تقنیني اسناد په ولسي جرګه کې تر کار لاندې دي، له بدمرغه د ځینو ستونزو له امله دغه اسناد حتی یو کال کېږي، چې په ولسي جرګه کې پاتې دي.»

هغه وايي، د دې کار ستر لامل په کمېسیونونو او عمومي غونډو کې د وکیلانو د نصاب نه پوره کېدل یادوي. د یادونې ده چې ولسي جرګه ۱۸ کمېسیونونه لري چې د اړوندو ادارو له لورې ورته تقنیني اسناد د تصویب، تعدیل یا لغوه کېدو په موخه لېږل کېږي.

یو شمېر دغه کمېسیونونه د پارلماني چارو د وزارت د نیوکو په ځواب کې وايي، چې په خپل وخت یې خپل کارونه ترسره کړي دي. ولسي جرګې عدلي او قضایي کمېسیون وايي، چې په تېر یو نیم کال کې ورته ۳۸ تقنیني سندونه راغلي، چې له هغې جملې یوازې اته سندونه له تصویب پاتې او نور ټول تصویب شوي دي.

د دغه کمېسیون غړی خالد اسد زیاتوي: «زموږ کمېسیون ته د ۳۸ ادارو قوانین چې په هغه کې ځینې اداري مدغم شوي وې، راغلي وو، اوس یوازې د جزا کوډ، د قضایه قوې تشکیلات او جزایي اجراتو د قانون مسوده پاتې ده، نور ټول پاس شوي دي.»

د ولسي جرګې د شکایتونو اورېدو کمېسیون غړی نصیب مقبل بیا وايي، هغه وخت چې د ولسي جرګې د ټاکنو پایلې نه وې اعلان شوې، ولسمشر محمد اشرف غني نږدې ۹۰ تقنیني فرمانونه صادر کړي، چې تصویب یې دقت ته اړتیا لري.

د ولسي جرګې په کمېسیونونو کې تقنیني سندونه تر غور وروسته د ولسي جرګې عمومي غونډې ته ځي او په عمومي غونډه کې له تصویب وروسته مشرانو جرګې ته د تایید لپاره لېږل کېږي.

د ولسي جرګې لومړی مرستیال محمد میرزا کټوازی هم دا مني، چې د ځینو وکیلانو د غیر حاضرۍ له امله په کمېسیونونو کې قوانین له تصویب پاتې دي، خو په خبره یې، ډېر ژر به د دایمي غیر حاضرو وکیلانو نومونه افشا کړي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر لسمه |۶۰۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۸ | ۳۲ | ۲۶ | ۳۴ | ۳۰ |
| ۱۱ | ۹ | ۱۳ | ۱۲ | ۱۹ | ۱۶ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۳۳ | لمر ختل ۰۵:۵۴ | ماسپښین ۱۱:۴۱ | مازیګر ۰۲:۵۶ | ماښام ۰۵:۲۶ | ماخوستن ۰۶:۴۹

## نړۍ



**تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر یو میلیون او ۷۳ زره او ۷۷۶ کسانو ته ورسېد**

۳

## ټرمپ: که ایران له ترهګریزو کړنو لاس وانه خلي، له بې مخینو اقداماتو سره به مخ شي



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ یو ځل بیا ایران ته د سختو بندیزونو خبرداری ورکړی دی. نوموړي چې په یوې راډیویي مرکه کې یې د ایران د ترهګریزو کړنو په اړه خبرې کولې، خبرداری ورکړی چې که ایران په سیمه کې له خپلو ناسمو سیاستونو لاس پر سر نه شي، نو داسې کار به ورسره وکړي چې وړاندې تر دې یې بېلګه نه وي لیدل شوې.

په ورته وخت کې ایران د نوموړي د دې څرګندونو په ځواب کې ویلي، دوی د امریکا د تر ټولو سختو بندیزونو بریالي راوتلي او له دې وروسته هم د ټرمپ د دروغجنو څرګندونو باک نه ساتي.

د ټرمپ دغه څرګندونې داسې مهال دي چې نږدې یوه میاشت مخکې امریکا په یو اړخیزه توګه پر ایران هغه ټول نړیوال بندیزونه بېرته ولګول چې د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي هوکړې له کبله ترې لرې شوي وو. که څه هم د امنیت شورا ډېریو غړو د امریکا له دغه اقدام سره مخالفت ښودلی، خو د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو خبرداری ورکړی که هر هېواد د امریکا له دغه اقدام څخه سرغړونه وکړي، له سخت ځواب سره به مخ شي.

## تر خونړیو جګړو وروسته؛ اذربایجان او ارمانیا د روسیې په منځګړتوب اوربند وکړ

اذربایجان او ارمنستان تر شاوخوا دوو اونیو سختو جګړو وروسته د روسیې په منځګړیتوب اوربند کړی دی.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف په تازه څرګندونو کې ویلي چې د روسیې، اذربایجان او ارمانیا د بهرنیو چارو د وزیرانو ترمنځ پوره لس ساعته خبرې شوې او په پایله کې یې د اوربند پر رامنځته کېدو توافق شوی دی.

سرګې لاوروف وایي، دواړو لورو ویلي چې د اوربند په موده کې به دواړه هېوادونه د جسدونو د وړلو اجازه ورکوي او د سره صلیب نړیواله کمېټه به بشري مرستې رسوي. د دې تر څنګ ژمنه شوې چې دواړه لوري به د نګورنو قره باغ د سیمې پر سر مذاکرات پیلوي او هڅه به کوي چې ستونزې د خبرو له لارې حل کړل شي.

د یادونې ده چې د ارمانیا او اذربایجان په څو ورځنۍ مخامخ جګړه کې لسګونه کسان وژل شوي او دواړې خواوې اوس اوربند ته تیار شوي دي. نګونو قره باغ سیمه د اذربایجان په خاوره کې پرته ده، خو دا چې اکثریت اوسېدونکي یې ارمنیان دي، نو د دوی له خوا اداره کېږي. د دغې سیمې پر د دواړو هېوادونو له خوا څو ځله سختې جګړې شوې دي.

## عبدالله: افغان ها باید با وحدت نظر پس از خروج نظامیان امریکایی جلو بحران را بگیرند



عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحه ملی می‌گوید که بیرون شدن نظامیان امریکایی از افغانستان پیش از تأمین صلح، بر اوضاع افغانستان اثرگذار خواهد بود.

آقای عبدالله در سفرش به هند و پیش از برگشتش به افغانستان، تأکید کرد که افغان‌ها باید آماده باشند و با وحدت نظر جلو بحران را بگیرند. او افزود: «پیش از تأمین صلح که اگر این کار [خروج نیروها] شود، تأثیر خود را دارد. باز هم مسؤلیت اولی و آخری به عهده ما است.»

رئیس شورای عالی مصالحه ملی گفت که در داخل حکومت در برابر روند صلح مخربینی وجود ندارند؛ اما برخی از کسان، از چگونگی صلح با طالبان نگران استند: «من نمی گویم مخربین صلح، بلکه کسانی که تشویش دارند از این‌که ما چه نوع صلحی را در افغانستان انتظار داشته باشیم.»


عبدالله عبدالله از ادامهٔ خشونت‌ها در کشور ابراز نگرانی کرد و تأکید ورزید که افغان‌ها نباید به گذشته برگردند. پیش از این، زلمی خلیل‌زاد از وجود مخربین روند صلح در داخل حکومت افغانستان سخن زده بود.

امیر محمد آخندزاده، عضو هیئت شورای عالی مصالحه ملی اظهار داشت: «در میان طالبان هم هستند کسانی که با صلح مخالفت می کنند و در حکومت هم هستند که با صلح مخالفت می کنند.»

این در حالی است که دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا پیش از این بر خروج نیروهای امریکایی تا پایان سال جاری میلادی خبر داده‌است؛ اما بربیناد توافق صلح امریکا و طالبان این نیروها باید تا ماه می سال آیندهٔ میلادی افغانستان را ترک کنند.

## ژوند


## د پیسو ارزښت



دا سمه ده چې پیسې نېکمرغي نه شي راوستی، خو نشتون یې سل بدبختۍ زیږولی شي. پیسې د ژوند یوه مهمه او اړینه برخه ده. له بېځایه شعارونو لرې اوسئ. ډېر خلک په دې اند دي چې پیسې د فساد ریښه ده، شتمن خلک حریص وي، پیسې نېکمرغي نه شي راوستی او... دا ټولې هغه کلیشه‌یي او تکراري جملې دي، چې د هرې یوې د نقد لپاره سلګونه دلیلونه شته. په نړۍ کې ډېر داسې شتمن کسان شته چې خپلې شتمنۍ یې د استعدادونو په غوړولو، د بېمارانو په درملنې، د کاري فرصتونو په رامنځ ته کولو، بیارغونې او ډېرو نورو داسې کارونو لګولې دي، چې عامو خلکو ته یې ګټه رسېدلې ده. نو پیسې په خپل ذات کې بد شی نه دي، بلکې له هغو څخه د ګټې اخیستنې ډول توپیر کوي.

## سامسُنګ ۵ کامرې لرونکی ځیرک موبایل معرفي کوي

سامسُنګ کمپنۍ د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر کې د نړۍ لومړنۍ شاتنۍ برخه کې ۴ کامرې لرونکی ځیرک موبایل، ګلکسي اې۹ خرڅلاو ته وړاندې کړ او اوس دغه کمپنۍ غواړي خپل لومړنی شاتنۍ برخې کې ۵ کامرې لرونکی ځیرک موبایل معرفي کړي. له دې وړاندې د نوکیا کمپنۍ نوکیا۹ پیور ویوو کې هم شاتنۍ برخې کې ۵ کامرې ورکړل شوې وې، خو دغه ځیرک موبایل د کمزورې سافټویر له امله ونشو کولی چې د کاروونکو پاملرنه جذب کړي. اوس سامسُنګ کمپنۍ غواړي خپل راتلونکی ګلکسي اې۷۲ شاتنۍ برخې کې ۵ کامرې ورکړي. ګلکسي اې۷۲ به د پخوانۍ بڼې ګلکسي اې۷۱ نوې او پرمختللې بڼه وي.



د یادونې ده چې ګلکسي اې۷۱ او ګلکسي اې۵۱ د غوره ځانګړنې او مناسبې بیې له امله ډېر مینه‌وال لري. د دغه ځیرک موبایل نورې ځانګړنې، بیې او د وړاندې کېدو نېټې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو افشا شویو معلوماتو کې ادعا شوې چې دغه ځیرک موبایل به په ۲۰۲۱ کال کې خرڅلاو ته وړاندې شي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

**عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي**

**مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.**

www.azizibank.af 1515

